
Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 1 3/5/2017 4:12:10 PM

Afghanistan Chamber Of Commerce & Industries
اتاق تجارت و صنایع افغانستان
دافغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق

ACCI Business Monitor

# دکاروبار سروې
# ۱۳۹۵



د ۱۳۹۵ کال د کاروبار سروې د تیر کال په پرتله د کاروبار په چاپیریال کې د ښه پرمختګونو ښکارندوی کوي. شرکتونه د خپل راتلونکي سوداګرۍ لید لوري لپاره هیله مند دي.

## دکاروبار د خنډونو سروې

د شرکتونو د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو په سروې کې د بلخ، کابل، کندهار، ننګرهار او هرات له ولایتونو څخه بیلګې ټاکل شوې دي.

## دکار و بار د وضعیت سروې

د کاروبار شرایط د کورنیو ناخالص تولیداتو د ودې د تګلورې د پېژندنې لپاره یو شاخص دی. دغه شاخص د خو راتلونکو میاشتو لپاره د کورني ناخالص تولید په کچه کې د بدلونو وړاندوینه کوي، په دې شرط چې په دې موده کې د اقتصاد په عمومي شرایطو کې د وړاندوینې وړ بدلونه رامنځته نه شي.



Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 2 3/5/2017 4:12:13 PM




# د کاروبار د خنډونو سروې
# د افغانستان د سوداګرۍ
# او صنایعو د خونې
## مرغومی ۱۳۹۵



Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 3 3/5/2017 4:12:18 PM



# دکاروبار د خنډونو سروې

# دکار و بار د وضعیت سروی

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 4 3/5/2017 4:12:18 PM

# سریزه

د ۲۰۱۲ کال څخه راپدېخوا، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه په پنځو لويو حوزو کې په سیستماتیکه بڼه د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو څخه په ربعوار او کلنۍ بڼه سروې ترسره کوي. دغه سروې سیاسي او اقتصادي واکدارانو، په ټولنه کې کاروباریانو او همدارنګه لیوالو کسانو ته هغه سند په لاس ورکوي، چې د شرکتونو څخه په مستقیم ډول ترلاسه شوي دي. له نیکه مرغه، د ۱۳۹۵ کال د کاروبار سروې د تیر کال په پرتله د کاروبار په چاپېریال کې د ښه پرمختګونو ښکارندوی کوي. شرکتونه د خپل راتلونکي سوداګرۍ لید لوري لپاره هیله مند دي. زمونږ له نظره ددې هیله مندۍ اصلي لامل، د اصلاحاتو لپاره د خصوصي سکتور د لومړیتوبونو د پلي کولو په پایله کې رامنځته شوي؛ د عامه او خصوصي سکتورونو ترمنځ د تفاهم یو ښه فضا رامنځته شوې ده. د هېواد خصوصي سکتور د پالیسي جوړونې په برخه کې اوس واک لري. خصوصي سکتور د اقتصادي عالي شورا، د کابینې د اقتصادي کمېټې په شورا کې، د ځمکې (عراضي) او اوبو په عالي شورا او نورو مهمو شوراګانو کې غړیتوب ترلاسه کړی دی. خصوصي سکتور د اړوندو وزارتونو، دولتي اداراتو او بنسټونو سره کار کوي، څو د خصوصي سکتور لخوا وړاندې شوي لومړیتوبونه پلي شي.

په وروستیو کلونو کې، موږ د کاروبار د چاپېریال د ښه والي په لور د ځینو عملي ګامونو شاهدان یو، لکه؛

- اوس مهال افغانستان د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې پوره غړیتوب ترلاسه کړی دی؛ پدې سازمان کې د غړیتوب لپاره ټول پروسیجر بشپړ شوي دي او اړوند قوانین او مقررات د ضرورت مطابق تعدیل شوي دي؛ د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې غړیتوب افغانستان د مثمر څو اړخیزو خبرو اترو لپاره یوه معتبره کړنلاره برابروي، څو د سوداګرۍ په وړاندې پراته خنډونه لرې شي؛
- د پرانیستي لاسرسی پالیسي، چې د خصوصي سکتور د اصلاحاتو یو مهم لومړیتوب دی، د اقتصادي عالي شورا لخوا تصویب شوې ده. دغه نوې پالیسي به مخابراتي شرکتونو ته دا فرصت په لاس ورکړي، څو د نوری فایبر په برخه کې د ۵۰۰ میلیونو څخه ډېره پانګه په مستقیمه توګه ولګوي؛
- افغانستان د تیر سیستم تطبیق له سره پیل کړی دی. کله چې دا سیستم پلي شي، تمه کیږي د افغانستان سوداګری نور هم پیاوړی، ترانسپورتي او مالیاتي خنډونه لیري، او سوداګریز توکي په آسانه ډول هېواد ته دننه شي؛
- د خصوصي سکتور د بیابیاځلي سپارښتنو په اساس، حکومت د سوداګرو او پانګوالو لپاره د ویزې د توزیع مرکز رامنځته کړ، د هېوادونو لومړنی لیست به پراختیا وکړی، څو مهم هېوادونه په افغانستان کې پانګونې ته لیوالتیا پیدا کړي او د اقتصادي همکار په توګه د افغانستان سره ونډه واخلي.
- د سوداګریزو شخړو د حل مرکز، چې د نړیوالو اصولو مطابق فعالیت کوی، په کابل کې شوی دی.
- د سوداګریزو جوازونو د ورکولو واحد مرکز افتتاح شوی دی، د آسیا د سوداګریزو جوازونو د ورکولو څانګه د سوداګرۍ او صنایعو له وزارت سره یوځای شوی ده تمه کیږي، چې دا پریکړه د سوداګریزو جوازونو د اخیستلو په لړۍ کې د ډیر وخت او لګښتونو د لګولو څخه مخنیوی وکړي.

د اتاق د کاروبار سروې به د عامه او خصوصي خبرو اترو د معلوماتو د مرکز په توګه خدمت ترسره کړي، پدې سره به د خصوصي سکتور پر وړاندې شته ستونزې روښانه شي. مونږ هیله لرو، چې ز مونږ شریکان د کاروبار د پرمختګ لپاره، د اړوندو قوانینو او مقرراتو په رامنځته کولو کې له همدې راتول شوي اسنادو ( سروې) څخه ګټه واخلي.

په افغانستان کې د کار وبار د یو پرمختللي چاپېریال د رامنځته کیدو په هیله،



عتیق الله نصرت

د هئیت عامل رییس

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 5 3/5/2017 4:12:18 PM

# سریزه

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه د شرکتونود کار وبار پر وړاندې د پرتو خنډونو څخه ترلاسه شوې سروې د سیاسي او اقتصادي تصمیم نیوونکو، سوداګریزو ټولنو او نورو مینه والو په واک کې ورکوي. دا سروې د هغو ستونزو په اړه، چې د کار وبار پر وړاندې پرتې دي، د معلوماتو د راغونډولو په موخه ترسره شوی او کوم بدلونونه، چې په دې موده کې رامنځته کیږي، ترڅیړنې لاندې نیسي.

د شرکتونو د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو په سروې کې د بلخ، کابل، کندهار، ننګرهار او هرات له ولایتونو څخه بیلګې ټاکل شوې دي. چې د شرکتونو د فعالیتونو اندازه او اقتصادي سکتور ته په کتو سره ترسره کیږي. د کابل د شرکتونه شمېر ۱۶۰ دي، خو د نورو ولایتونو د شرکتونو شمېر ۵۰ ټاکل شوې دي. د دې سروې مرکې د ټیلیفون له لارې د ۱۳۹۵ کال د لړم په میاشت کې ترسره شوی دی.

د یادونې وړ ده، چې دا سروې د محرمیت اصل په پام کې نیولو سره ترسره شوې ده او له ترلاسه شویو شمېرو او اطلاعاتو څخه یوازې د دې راپور په چمتو کولو کې ګټه اخیستل کیږي. د متشبثینو انفرادي اطلاعات په بشپړ ډول پټ او په راپور کې د یو شخص او یا شرکت هیڅ ډول شخصي معلومات نه خپریږي. راغونډ شوي شمېرې د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو په خونه کې د څیړنې د ډلې له لوري ارزول شوي دي. دا څانګه په ۲۰۱۲ کال کې د جرمني د انکشافي اداري په مرسته رامنځته شوې ده .

## دکار وبار پر وړاندې د پرتو خنډونو د سروې پایلې:

لکه څنګه چې مخکې ترې یادونه وشوه، د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو سروې هغه ستونزې په ګوته کوي، چې د کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات په ولایتونو کې د سروې شویو شرکتونو د اقتصادي فعالیتونو پر وړاندې پرتې دي.

د دغه سروې پوښتنې د تشبثاتو په ملي اجنډا کې د مطرح شویو مسایلو په محور راڅرخي. د کاروبار پر وړاندې د خنډونو د دریمې سروې مرکې د ۱۳۹۵ کال د لړم په میاشت کې د ټیلیفون له لارې ترسره شوی، او د شرکتونو شمېر یې ۳۶۰ ته رسیږي.

## ددې سروې د موندنو لنډیز په لاندې ډول وړاندې کولای شو:

۱. ددې سروې له مخې د کاروبار د ودې پر وړاندې د هېواد په سطح د بیخ بناوو کمښت ستر خنډ بلل شوی دی او (۷۱,۷٪) څخه ډېر شرکتونه د بیخ بناوو د نشتون څخه سر ټکوي. (۸۲٪) سروې شوي شرکتونو ویلي دي، چې انرژي یا بریښنا ته لاسرسي نه لري او دغه خنډ د هغوی په وینا ډېر ملا ماتونکی دی.

۲. د تېر کال د سروې په پرتله، د هېواد په کچه؛ په کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او د هرات په ولایتونو کې د سروې شویو شرکتونو له نظره امنیتې وضعیت لږ ښه شوی دی.

۳. په عمومي توګه، د تېر کال د سروې په پرتله، د عمومي داوطلبي وضعیت ښه شوی دی، خو " نامعلوم او غیر قانوني پروسیجر "او همدارنګه "سیاسي لاسوهنې " لاهم د عمومي داوطلبي د ترسره کېدو پر وړاندې د اصلي ستونزو په توګه شتون لري.

۴. د تېر کال په پرتله، د مالیاتو د سیستم په اړه شکایتونه ډېر شوي دي، او نږدې (۶۳٪) سروې شوي شرکتونو ویلي، چې په اوسني مالیاتي سیستم کې مغلقیت او فساد شتون لري او د کار و بار پر وړاندې یې ستونزې جوړې کړې دي.

۵. د دې سروې له مخې، د نورو ولایتونو په پرتله د هرات او بلخ په ولایتونو کې د ګمرکونو په اړه شکایتونه ډېرشوي دي او کار و باریانو ویلي، چې مالیات په ډېر مغلق او غېر شفاف ډول غونډیږي، چې دا کار د کار و بار په وړاندې خنډ جوړ کړی دي.


۶. د ښځو په وړاندې د پرتو ستونزو او چیلنجونو برخېره په تشبثاتو کې د ښځو د ګډون لپاره د ملاتړ کچه لوړه ده.


## ځمکې ته لاسرسی

د کار و بار پر وړاندې د پرتو خنډونو سروې ښيئ، چې په ټول هېواد کې (۵۱,۱٪) ځواب ويونکو يا مصاحبه شويو کسانو ( د تير کال د ۳۵,۸۶٪ په پرتله) ځمکې ته لاسرسی ستونزمن بللی او(۴۸,۹٪) نورو يې (په داسې حال کې چې ۲۰۱۵ کال کې دا اندازه ۶۴,۱۴٪ ته رسيدله) ويلي، چې د ځمکې په پېرلو او يا د اجارې په برخه کې له هيڅ ډول ستونزې سره مخ نه دي. اوسنی سروې د دې ښکارندوی ده، چې ځمکې ته لاسرسي يوه لويه ستونزه ده، خو د سترو شرکتونو ستونزې د کوچنيو او منځنيو شرکتونو په پرتله کمې دي.

په سکتوري لحاظ ډېری توليدي شرکتونه (۶۶,۲۵٪)ځمکې ته د لاسرسی په برخه کې شکايت لري. تقريباً (۵۱,۴۳٪) ودانيز شرکتونه، (۵۱,۴۳٪) سوداګريز شرکتونه (۴۷,۱۴٪) خدماتي شرکتونه او (۳۷,۱۷٪) کرنيز شرکتونه هم ځمکې ته د لاسرسي په برخه کې شکايت لري. ټولو سکتورونو ويلي، چې د تېر کال د سروې په پرتله، ځمکې ته د لاسرسی ستونزې يې ډېرې شوي دي.

ګن شمېر (۴۷,۱۲٪) شرکتونو ويلي، چې د ځمکې لوړې بيې او کرايې، د کار و بار په وړاندې لويه ستونزه جوړه کړې ده. يو شمېر نورو (۳۴٪) سروې شويو شرکتونو ويلي دي، چې د صنعتي ځمکې نشتوالی د هغوی د کاروبار پر وړاندې ستره ستونزه ده. يو شمېر (۱۵,۱۴٪) نور سروې شوې شرکتونه ويلي دي، چې د صنعتي ځمکو نشتوالی د هغوی د کاروبار پر وړاندې ستره ستونزه ده. (۸٪) شرکتونه، سياسي لاسوهنې ستره ستونزه او ځمکې ته د لاسرسي په برخه کې حقوقي مسايل او ملکيتونه خنډ بللی دی.




ګراف ۱- ځمکې ته لاسرسی

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 7 3/5/2017 4:12:19 PM

# مالي سرچينو ته لاسرسی

سره له دې، چې په دې وروستيو پنځلسو کلونو کې په افغانستان کې مالي سيستم په چټک ډول وده کړې، خو اوس هم مالي بنسټونه په اقتصادي فعاليتونو کې ډېر محدود رول لري. که څه هم مالي سرچينو ته د لاسرسی په برخه کې کوم کره شمېره په لاس کې نشته، خو ډېر کم شمېر خصوصي شرکتونه رسمي مالي خدمتونو ته لاسرسی لري. ډېری شرکتونه لوړ بانکي سودبيو او سختو ضمانتي شرايطو دې ته اړ کړي، چې پور وانخلي. ان که چيرې د سود بيه مناسبه وي، يو شمېر متشبثين بياهم له پور اخيستلو ډډه کوي، هغوی په دې باور دي، چې سود د اسلامي اصولو خلاف دي.


په ټوله کې(۴۷٪) ځواب ويونکو ويلې، چې مالي سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې دوی له ستونزو سره مخ دي. په داسی حال کې، چې (۵۳٪)بيا ويلي، چې مالي سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې له هيڅ راز ستونزو سره مخ نه دي. په ولايتونو کې توپيرونه د پام وړ دي(۴۰,۶۳ ٪)په کابل کې سروې شوې شرکتونه مالی سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې ستونزه لري او دا شمېره د تير کال په پرتله (۳۶,۱۵ ٪) لږ څه لوړوالی ښيي، خو ډېر شمېر شرکتونه په کندهار (۷۰ ٪)، ننګرهار (۶۴ ٪) او بلخ کې (۶۶ ٪) ويلي دي، چې مالي سرچينو ته د لاسرسی په برخه کې له ستونزو سره مخ دي. په هرات ولايت کې شرکتونه بيا مالي سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې د ټولو څخه د کمو ستونزو (۱۸ ٪) سره د مخ والي خبره کوي، دا


په داسې حال کې ده، چې تېر کال (۳۷,۵ ٪)هراتي شرکتونو ويلي وه، چې د دغو سرچينو په برخه کې له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

تېر کال د منځنيو شرکتونو په پرتله، سترو شرکتونو ويلي و، چې له ډيرو ستونزو سره مخ دي، خو د سږ کال د سروې مطابق د يادو شرکتونو ترمنځ د پام وړ توپېر نه ترسترګو کېږي ( ستر شرکتونه "۴۶,۶ ٪ " او منځني شرکتونه "۴۷ ٪ ").

توليدي او کرنيز شرکتونو مالي سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې تر ټولو د ډيرو ستونزو د لرلو راپور ورکړي دي (۶۲ ٪) او د خدمتونو سکتورمالي سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې د (۲۲,۸ ٪) ستونزو سره د مخ کېدو راپور ورکړي دي. شاوخوا (۴۲ ٪) سوداګريز او ودانيز شرکتونو ويلي و، چې د پيسو په لاسته راوړلو کې له ستونزو سره مخ دي.

د تېرو کلونو په څير، ډېری شرکتونو(۵۲ ٪) د ګټې د کچې لوړوالي ستره ستونزه بللي، خو (۲۵,۷۳ ٪) ځواب ويونکي وايې، چې زيات ضمانتونه مالي سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې عمده ستونزي دي. د يو شمېر شرکتونو بيا ډير پيچلي سوداګريز پلان او د پور اخېستلو لپاره د قوي سياسي واسطو موندل سترې ستونزې ښودلي دي.




ګراف ۲- مالي سرچينو ته لاسرسی

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 8 3/5/2017 4:12:19 PM

# مالیاتي سیستم


د افغانستان متشبثین له پیچلي مالیاتي سیستم سره مخ دي، چې بیلابیلې مالیې په بر کې نیسي. دغه سیستم د خصوصي سکتور له نظره ډیر پیچلی، حیرانوونکی او د وړاندوینې وړ نه دی او د ناقانونه چارو لپاره لاره اواروي. برخېره پر دې کاروباریان د نویو مالیاتي قوانینو د پلي کېدو له امله ډېر خفه دي او شرکتونو دې ته اړ کړي دي، څو خپل د کړنو بیلانس یا توازن په میاشتنی، ربعوار او کلنۍ ډول وسپاري.


د تېر کال په څېر، د شرکتونو د مالیاتي سیستم سروې، په دې سیستم کې د وضعیت خرابیدل ښیي او د تېر کال په پرتله پدې سروې کې د سیمې په کچه (۵۲,۷۶ ٪)، شرکتونو ویلي، چې د مالیاتو په سیستم کې د (۶۳,۶ ٪)ستونزو سر مخ دي.

په ټولو ولایتونو کې (۶۷,۵ ٪) تولیدي او (۶۷,۱۴ ٪) سوداګریز شرکتونه د مالیې د ورکړې له سیستم څخه شکایت لري؛ خو د خدمتونو (۶۲,۸۶ ٪) او د ودانیزو (۵۷,۱۴ ٪) شرکتونو ترمنځ هم یاد شمېر لوړ ښودل شوی دی.

د لویو (سترو) شرکتونو (۵۸,۹ ٪) په پرتله، منځني (۶۴,۱۴ ٪) او کوچني (۶۴,۴٪) شرکتونه په مالیاتي سیستم کې د زیاتو ستونزو سره مخ دي.

ډېری شرکتونو، چې د مالیاتي سیستم له ستونزو سره مخ دي، ویلي، چې "مالیاتي سیستم پیچلي او غیر شفاف " دی. (۳۰ ٪) سروې شویو شرکتونه ویلي، چې اوسني مالیاتي سیستم "غیرعادلانه او حقایقو له مخې ندی چمتو شوی " او همدارنګه پاتي (۲۰ ٪) شرکتونو ویلي دي، چې د مالیې د راغونډولو مامورین مالیاتي اصول او مقررات په پام کې نه نیسي.




ګراف ۳- مالیاتي سیستم

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 9 3/5/2017 4:12:19 PM

# د ګمرک شرایط

سوداګریزه ټولنه د امکاناتو او د نویو تجهیزاتو لکه په سرحدي سیمو کې د تخنیکي لابراتوارونو او زیرمو له کموالي څخه شکایت کوي. سربېره پر دې، اوسني پیچلي او غیر معیاري ګمرکي کړنلارې د دې لامل شوې، چې سوداګر خو ځلې د هغواد په پولو کې ګمرکي محصول ورکړي.


د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو په سروې کې د صادراتو او وارداتو حقوقي شرایط او مقررات څېړل شوي دي. دا سروې په ډاګه کوي، چې د تېر کال په پرتله په ګمرکي شرایطو کې کوم توپیر نه ترسترګو کېږي.


په تېره سروې کې شاوخوا (۶۰٪) سروې شوې شرکتونه د ګمرکي شرایطو څخه خوښ نه وه، په داسې حال کې چې په دې سروې کې(۵۲,۸٪) شرکتونه په هماغه سیمو کې له ګمرکي شرایطو څخه شکایت کوي.

د ولایتونو ترمنځ توپیر د پام وړ دی. په هرات کې شاوخوا(۶۶,۶۷٪) سروې شوي شرکتونه چې له ګمرک سره مخامخ (مستقیمې) اړیکې لري او (۶۰٪) زیات په بلخ کې سروې شوي شرکتونه ګمرکي شرایط د خپل کاروبار پر وړاندې له خنډونو ډک بولي. دا شمېر بیا په کندهار کې (۵۰٪) جوړوي، (۴۲,۳٪) د ننګرهار او ۳۵٪ د کابل سروې شوي شرکتونو د ګمرکي محصولاتو په ورکړه کې له ستونزو سره دمخ کېدو راپور ورکړی دی.

مختلف شرکتونه د ګمرکونو په سیستم او طرزالعمل کې د پرمختګ غوښتونکي دي، او د ګمرکونو اوسني سیستم او پروسه د کیفیت له پلوه د هرې برخې له نظره ډېر ټیټ دی، په تولیدي برخه کې ترسره شوې سروې ښیي، چې (۷۵٪) په ګمرکي سیستم کې له ستونزو سره مخ دي، دا په داسې حال کې دی، چې(۶۲٪) ودانیز، (۵۲٪)کرنیز، (۳۹٪)سوداګریز او (۳۶٪)خدماتي شرکتونه په ګمرکي برخه کې د ستونزو له لرلو څخه شکایت کوي.

کوچنی (۶۶٪) شرکتونه د منځنیو (۶۴٪) او سترو (۵۹٪) شرکتونو په پرتله زیات له ګمرکي ستونزو څخه سر ټکوي. زیاتره ځواب ویونکي د ګمرکي ستونزو اصلي لامل "ناعادلانه او خپلسري ګمرکي سیستم " بولي او سربېره پر دې، دغو کسانو "لوړې او غیر شفافې تعرفې " هم د ګمرکي ستونزو له جملې بللي دي. په دې سروې کې شاوخوا (۱۴٪) سروې شوي شرکتونه " له قانون نه د ګمرکي مامورینو سرغړونې " او (۸٪) شرکتونو "اضافي او ناقانونه زیات فیس " د ستونزو په توګه یاد کړي دي. د ګمرک د اداري او وارداتو او صادراتو د مدیریت لپاره د سرحدي پوستو ټیټ ظرفیت بله هغه ستونزه ده، چې کم شمېر ځواب ویونکو ترې یادونه کړې ده.




ګراف ۴- د ګمرک شرایط

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 10 3/5/2017 4:12:19 PM

# داوطلبي


د داوطلبي په پروسه کې روڼوالی او رقابتي شرایط نشته. د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو دا سروې د تیرې سروې په څیر تاییدوي، چې ډېر شمېر شرکتونه په داوطلبي کې "د داوطلبي له غیر شفاف او خپلسري بهیر"، "په داوطلبیو کې سیاسي لاسوهنې"، "بډې ورکول" او "له درنو بانکي ضمانتونو" څخه شکایت کوي.


د داوطلبیو عمومي حالت د تیر کال په پرتله ښه شوی، خو په هرات کې (۸۷,۵ ٪)په ننګرهار کې (۷۶,۷ ٪) او په کندهار کې (۶۷,۴ ٪) شرکتونه د داوطلبي په پروسه کې د ستونزو څخه شکایت کوي. په کابل کي(۵۵,۸ ٪) او بلخ کې (۴۸,۶ ٪) شرکتونه د داوطلبي په اوسنی پروسیجر کې د اصلاحاتو د رامنځته کیدوغوښتونکي دي.

ودانیز شرکتونه (۶۹,۸ ٪)، د خدماتي، سوداګریز او کرنیز شرکتونو په پرتله د داوطلبي په برخه کې د ډیرو ستونزو سره د مخ کیدو خبره کوي. تولیدي شرکتونه یواځنی سکتور ښودل شوی دی، چې له نیمایې څخه ډیر په داوطلبیو کې د ستونزو د نلرلو راپور ورکړی دی.

ستر شرکتونه د منځنیو او کوچنیو شرکتونو په پرتله د ډیرو ستونزو د لرلو څخه شکایت لری. د تیرې سروې پر بنسټ، تیر کال (۵۴,۴۶ ٪) شرکتونو د داوطلبي "غیرې شفاف او خپلسری پروسیجر" او په "داوطلبي کې سیاسی لاسوهنې" د خپلو ستونزو اصلی لامل بللي وه، خو سږ کال (۳۰ ٪) سروې شوې شرکتونو "سیاسي لاسوهنې" د اصلي لامل په توګه ښودلي دي. (۴۰ ٪) "غېر شفاف او خپلسري پروسیجر" او (۲۱ ٪) "رشوت" په داوطلبي کې د اصلي ستونزو په توګه یاد کړي دي. د تېر کال په شان، کوچنیو شرکتونو بیا د اړتیا وړ درانه بانکي ضمانتونه په داوطلبي کې د خپل اصلي ستونزو په توګه یاد کړي دي.

په ټاکلي وخت د تدارکاتي فرصتونو لپاره د معلوماتو وړاندې کول د رنې او رقابتي داوطلبي لپاره اساسی اړتیا ده. د افغانستان د سوداګری او صنایعو خونه دې اړتیا ته د ځواب ویلو په موخه (http://www.kabul-tender.org) ویب پاڼه جوړ کړې ده.




ګراف ۵- داوطلبي

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 11 3/5/2017 4:12:19 PM

# د جواز ثبت او تمدید


په افغانستان کې د خصوصي سکتور لپاره د کاروبار پیلول ستونزمن نه دی.


پخوا به په ۷ ورځو کې یو محدود المسوولیت شرکت د آیسا د ادارې سره ثبتیده او د یو شرکت د ثبتولو لپاره د پانګې لږ تر لږ کچه مشخصه نه وه. په ۲۰۱۶ کال کې، one stop shop (د خدمتونو واحد مرکز) د کاروبار د ثبت لپاره رامنځته شو؛ د آیسا اداره ملغی او د سوداګرۍ او صنایعو له وزارت سر یوځای شو، تمه کیږي څو د کاروبار د جواز د ثبت په مصارفو او وخت کې ډیر کموالی راشي.

د یادو پرمختګونو برسیره، د کاروبار د جواز د ورکړې او تمدید شرایط د تیر کال په پرتله خراب شوی دی، او د (۲۸ ٪) څخه ډیرو شرکتونو د کاروبار پیلول یوه لویه ستونزه بللی ده. د ننګرهار د کاروبار وضعیت (۵۴ ٪) او د کندهار (۴۶ ٪) زیات خراب راپور ورکړل دی؛ دا په داسې حال کې ده، چې کاروباریان په کابل کې (۱۶ ٪) او په هرات کې (۱۲ ٪) د کار وبار له وضعیت څخه خوشحاله دی. په بلخ کې (۴۰ ٪) کاروباریانو د و ضعیت له خرابیدو څخه اندیښنې ښودلي دي.

منځنی شرکتونه د سترو او کوچنیو شرکتونو په پرتله د لږو ستونزو سره د مخ کیدو راپور ورکړي دي. همدارنګه، تولیدي، سوداګریز او ودانیز شرکتونه د کرنیزو او خدماتي شرکتونو په پرتله د ډیرو ستونزو د لرلو خبره کړې ده.

د "جواز د اعتبار لږه موده او د لنډې مودې لپاره د جوازونو تمدید" همدارنګه "د جوازونو د ثبت دېرو پیچلي کړنلاري" د ستونزو د دوو مهمولاملونو پتوګه په ګوته شوي دي. (۲۰,۶٪) شرکتونو او کاروباریانو فساد او اضافي لګښتونه د سترې ستونزې پتوګه په نښه کړي دي. کوچني شرکتونه "د کاروبار له ځایه د جواز او تمدید د اداري لرې والی" د خپلو ستونزو په توګه په ګوته کړي دي.




ګراف ۶- د جواز ثبت او تمدید

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 12 3/5/2017 4:12:19 PM


# بيخ بنسټونه

د بيخ بناوو کموالی په افغانستان کې د خصوصي سکتور د پرمختيا پر وړاندې عمده ستونزه ده. سره له دې، چې په دې وروستيو کلونو کې د بيخ بناوو د پراختيا لپاره څه نا څه هلې ځلې شوي دي، خو متشبثين د بريښنا له کمښت، د فاضلاب د سيستم له خرابوالی، د سړکونو خرابوالی او کله ناکله د مخابراتي پوښښ له کموالي څخه شکايت کوي.

د کار وبار پر وړاندې د پرتو خنډونو په سروې کې په ډاګه شوې، چې د بيخ بناوو نشتوالی د هېواد په کچه، په تېره بيا د خصوصي سکتور لپاره يوه ستره ستونزه بلل کېږي. هغه داسې، چې (۷۱,۷ ٪) سروې شوي شرکتونه په هېواد کې د بيخ بناوو له نشتوالي شکايت کوي. د ننګرهار ( ۸۸ ٪)، کندهار(۷۴٪)، کابل (۷۰,۶ ٪)، بلخ (۷۰ ٪) او هرات (۵۸ ٪) شرکتونو د وړ او مناسبو بيخ بناوو له نشتوالي څخه شکايت لري.

(۸۲ ٪) سروې شوی شرکتونه وايي، چې د کاروبار لپاره تر ټولو ستره بيخ بنايي ستونزه بريښنا ده. (۸۶ ٪ ) توليدي، (۷۶ ٪)کرنيز او (۷۱,۴ ٪)سوداګريز شرکتونو ويلي، چې د خدماتي (۶۵ ٪) او ودانيزو (۵۷ ٪) شرکتونو په پرتله په بيخ بناوو کې له سترو ستونزوسره مخ دي.

ستر او منځنی شرکتونو ويلي، چې د کوچنيو شرکتونو په پرتله په بيخ بناوو کې له ډېرو سترنزو سره مخ دي.





ګراف ۷- بيخ بناوې (زيربناوې)

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 13 3/5/2017 4:12:19 PM

## مسلکي کاري ځواک

افغانستان د تحصیل لرونکي کسانود مهاجرتونو او ورځ روزنیزو اسانتیاوو د نشتوالي له امله د مسلکي کارکوونکو له کمبنت سره مخ دی. د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو سروې په ډاګه کوي، چې کندهار او ننګرهار ولایتونه د کابل، هرات او بلخ په پرتله مسلکي کارکوونکو ته د لاسرسي په برخه کې له زیاتو ستونزو سره مخ دي.

د تولیدي (۳۵ ٪) او کرنیزو (۳۱,۴ ٪) شرکتونو په پرتله سوداګریز (۲۴,۳ ٪) او ودانیز (۲۲,۸ ٪) شرکتونه د ډیرو ستونزو سره مخ دي. د منځنیو شرکتونو(۲۵ ٪) په پرتله ستر شرکتونه (۷۴,۴ ٪) د ډیرو ستونزو له لرلو څخه شکایت کوي.




ګراف -۸ مسلکي کاري ځواک


## امنیت

امنیت په ټولو سکتورونو کې د متشبثانو لپاره تر ټولو ستره اندیښنه ده. د هیواد په ځینو سیمو کې د اجناسو او ودانیزو توکو لیږدول له خطر څخه ډک وي.

دغه سروې په ډاګه کوي، چې د کابل، بلخ او ننګرهار او هرات په ولایتونو کې امنیتي حالت د تیر کال په پرتله ښه شوی دی. د کندهار امنیتي حالت د نورو ولایتونو په پرتله خراب شوی دی. په ټوله کې (۵۹,۲٪) سروې شوی شرکتونو ویلي، چې ښځې باید په زیاته کچه په تشبثاتو کې ونډه واخلي. د تیر کال د سروې په پرتله، کندهار هغه سیمه ښودل شوی دی، چې ډیرې ستونزې لري. د کاروبار لپاره د لیوالتیا او هیله مندي کچه په سویل لویدیځ کې ډیره ټیټه شوی ده.(۵۲,۵ ٪) د کندهار شرکتونو ویلي و، چې امنیتي وضعیت ښه شوی دی، خو سږ کال (۵۴ ٪)ته راټیټ شوی دی.
( ۸۰ ٪) د ننګرهار، (۷۰ ٪) د بلخ، (۵۶ ٪) د کابل او (۴۲ ٪) د هرات سروې شوي شرکتونو ویلي دي، چې امنیتي حالت خراب شوی دی.

د سکتورونو ترمنځ کوم مهم توپیر نه ترسترګو کیږي، په تولیدي برخه کې تر ټولو زیات (۶۳,۷ ٪) شکایت ثبت شوی دی او د کرنې په برخه کې د ټولو سکتورونو څخه کم (۵۳ ٪) امنیتي شکایت راپور شوی دی.

منځنې شرکتونو د سترو شرکتونو په پرتله د ډیرو ستونزو د لرلو راپور ورکړی دی.




ګراف ۹- امنیت


## په تشبثاتو کې د ښځو ونډه

په افغانستان کې شته دود او دستور په ځینو اقتصادي فعالیتونو کې د ښځو ونډه راکمه کړې، چې له دې امله د بشري ځواک یوه ستره برخه بې ګټې پاتې ده او له همدې امله د هېواد اقتصادي وده ورو شوې ده.

سره له دې، چې د ښځینه متشبثینو پر وړاندې زیاتې ستونزې پرتې دي، خو د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو سروې ښیي، چې په اقتصادي فعالیتونو کې د خصوصي متشبثینو په منځ کې د ښځو له ګډون څخه د پام وړ (۶۲,۵ ٪) ملاتړ شتون لري، دا په داسې حال کې دی، چې تیر کال دا شمېر(۷۶,۵ ٪) ته رسیده .

دغه سروې ښیې، چې په کابل کې (۷۴,۴ ٪)، بلخ (۸۸ ٪) او هرات (۷۶ ٪) په تشبثاتو کې د ښځو د ونډې څخه ملاتړ کوي، خو دا شمېر په ننګرهار کې(۳۲ ٪) او کندهار کې(۱۶ ٪) ته راکمه شوې ده.

په ټولو سکتورونو کې د ښځې د ونډې څخه هرکلی کیږي. (۷۷٪) کرنیز، (۶۴,۳ ٪) خدماتي، (۶۳,۷ ٪)تولیدي او شاوخوا (۵۸,۶ ٪) سوداګریزو شرکتونه د ښځو له ګډون څخه هرکلی کوي.




ګراف ۱۰- په تشبثاتو کې د ښځو ونډه



Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 15 3/5/2017 4:12:27 PM




# د افغانستان د سوداګرۍ
# او صنایعو خونه
# دکار و بار
# د وضعیت سروې



## ستړې مونډنې:

• د تیر سروې په پرتله د کار و بار اوسنی وضعیت او همدارنګه د راتلونکې شپږو میاشتو لپاره د هیلمنتیا کچه لږه کمه شوې ده.

• دا ځل سیمه ییز توپیرونه ډېر حس کېږي، بلخ او کابل کې د کار و بار وضعیت ډېر خراب شوی او د ننګرهار د کار و بار حالت کې ځینې پرمختګونه لېدل کېږي.

• د تېر سروې په پرتله د متشبثینو د فرمایشونو عمومي بیلانس کې ځینې پرمختګونه ترسترګو کیږي، خو د فرمایشونو په عمومي بیلانس کې د تېر سروې په پرتله لا هم منفي راپور ورکړل شوی دی.

• امنیت، مارکیټ، تقاضا او ښه بیخ بناوو ته اړتیا د کار و بار د پرمختګ لپاره ستر مطلوبه پرمختګونه شمېرل کېږي.

• په ټولو څلورو سروې شویو سکتورونو کې شرکتونه د تېرو وختونو په پرتله لږ کارکونکي په دندو ګمارلي دي، خو د کرنې په سکتور کې لومړنی ترسره شوي سروې ښيي، چې د ګومارنې مثبت پرمختګونه په دې سکتور کې وجود لري.

## الف. د کار و بار شرایط:

د کار و بار شرایط د کورنیو د ناخالصو تولیداتو د ودې د پیژندنې لپاره یو شاخص دی. دغه شاخص د څو راتلونکو میاشتو لپاره د کورنی د ناخالص تولید په کچه کې د بدلونونو وړاندوینه کوي، په دې شرط چې په دې موده کې د اقتصاد په عمومي شرایطو کې وړ بدلونونه رامنځته نه شي.

د کار و بار د شرایطو شاخصو د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره د کارو بار د وضعیت او سوداګریزو هیلو په اړه د شرکتونو د مسوولینو پر قضاوت ولاړ دی، چې د منل شوي نړیوال معیار له مخې محاسبه کیږي ( د لا زیاتو معلوماتو لپاره د راپور په پای کې ضمیمې ته مراجعه وکړئ).

د دې شاخصونو بیه د صفر ( یعنی نورمال) او مثبت ۱۰۰ ترمنځ ده، هغه داسې، چې صفر د عادي په مفهوم دی، له صفر نه تر مثبت ۱۰۰ پورې د کار وبار مثبت شرایط او له صفر نه تر منفي ۱۰۰ پورې د کار و بار منفي شرایط بلل کیږي.


## الف. ۱ - د کار وبار عمومي شرایط د هر ولایت په تفکیک:

د کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات لپاره د ۱۳۹۵ کال د لیندی په میاشت کې د کار و بار د عمومي شرایطو شاخص په مجموع کې منفی (۹,۹۳-) دی، په داسې حال کې، چې په مخکینی سروې کې دغه شمېر (۶,۸۱-) ؤ.

د کاروبار په عمومي حالت د تېر سروې په پرتله د پام وړ کوم بدلون نه دی راغلی، خو په ټوله کې د کاروبار په هکله د متشبثینو د هیله منتیا اووسنی کچه او همدارنګه د راتلونکې شپږو میاشتو لپاره د هغوی د هیله منتیا اندازه لږه کمه شوې دي. د تېر کال د څلورمې ربعې په پرتله اووسنی د کاروبار حالت ښه راپور شوی دي.


ننګرهار د مثبت شاخص لرونکې یواځنی ولایت ښودل شوی دی، خو د هرات ولایت د کارو بار په شاخصو کې هم ځینی پرمختګونه د تیر سروې په پرتله رامنځته شوی دی. د بلخ په پرتله د کابل د کار و بار وضعیت خرابترین حالت ته رسیدلی. کندهار هم د منفي شاخص درلودونکی دی.

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 17 3/5/2017 4:12:27 PM




| | IV-2012 | IV-2013 | I-2014 | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولټال | 14 | 8 | 27 | 1 | 31 | 19.3 | 2.2 | -23.1 | -18.9 | -9.1 | -6.7 | -6.8 | -9.9 |
| کابل | 17 | 12 | 29 | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40.3 | -26 | -9.3 | -20.8 | -13.5 | -30.4 |

گراف ۱: د کاروبار عمومي شرايط کابل او ټولټال ۱۳۹۱-۱۳۹۵ (په ربع وار دول)




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40.3 | -26 | -9.3 | -20.8 | -13.5 | -30.4 |
| بلخ | -21 | 31 | 21.7 | 20.2 | -30.6 | -11.1 | 3.9 | -53.9 | -5.6 | -20.6 |
| کندهار | 10 | 33 | 25.5 | 2.8 | -12.2 | -27.2 | -19.4 | 5 | -1.1 | -2.6 |
| ننگرهار | 18 | 37 | 31.7 | 18.9 | -1.1 | -6.1 | -11.1 | 27.8 | -3.9 | 5.7 |
| هرات | 4 | 24 | 6.7 | -28.3 | -31.1 | -23.9 | -9.4 | 8.3 | -10 | -1.5 |


گراف ۲: د هرې سيمې په تفکيک د کاروبار شرايط ۱۳۹۵-۱۳۹۱

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 18 3/5/2017 4:12:27 PM

## الف. ۲- د سکتور په تفکیک د کارو بار شرایط:

د یادونې وړ دی، چې د کرنیزو محصولاتو د کار و بار اهمیت ته په کتو سره او د عامه او خصوصی همکارانو لخوا د غوښتنې په اساس، مونږ ددې سروې په ترخ کې، کرنې برخه هم د یو نوی سکتور پتوګه په نظر کې نیولی دی.

دا ځل، د تیر سروې په پرتله، د ټیخ بناوو د سکتور د کار و بار شاخص خراب راپور ورکړل شوی دی. د خدمتونو په سکتور کې کوم مهم توپیر نه تر سترګو کیږي، خو د ساختمان په وضعیت کې (۲۷,۶→۱۶,۷-) او د سوداګرو په وضعیت کې (۱۱,۳۸→۷-) د کار و بار شرایط خراب راپور ورکړل شوی دی. کرنې سکتور، چې د لومړې ځل لپاره پدې سروې کې شامل شوی دی، د منفی کار وبار شاخص لرونکی بلل شوی دی.




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تولیدي | 3 | 36 | 18.7 | 19.7 | -20.6 | -11.8 | -0.9 | -4.2 | -1.5 | -12.7 |
| سوداګریز | -1 | 32 | 20.7 | -5.5 | -26.6 | -25.2 | -8.3 | -3.5 | -6.9 | -11.4 |
| ودانیز | 11 | 25 | 9.5 | -11.4 | -28.6 | -21.9 | -20 | -14.3 | -16.7 | -27.6 |
| خدماتي | 0 | 29 | 19.3 | -5.4 | -31.4 | -23.8 | -11.4 | -17.9 | -10.7 | -15.2 |
| کرنیز | | | | | | | | | | -5.5 |

ګراف ۳: د هرې سکتور په تفکیک د کاروبار شرایط ۱۳۹۱-۱۳۹۵


Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 19 3/5/2017 4:12:27 PM

## الف. ۳- د شرکتونو د کچې په تفکیک د کار و بار شرایط:

ستر او منځنیو شرکتونو د خپل کار و بار وضعیت خراب راپور ورکړی دی، خو د معمول په خیر، د سترو متشبثینو لپاره د کوچنیو او منځنیو شرکتونو په پرتله د کار و بار شرایط ښه ښودل شوی دی، خو دا ځل د پخوا په پرتله د لږ خرابوالي ښکارندوی دی.

د افغانستان د سوداګری او صنایعو خونې د کار و بار شرایطو د پخوانی سروی مطابق، د کوچینو او منځنیو شرکتونو لپاره د کار و بار د شرایطو کچه (۱۲-) وه، خو اوسمهال دغه کچه (۱۶-) ته لوړه شوې ده.

د سترو شرکتونو لپاره د کار و بار د شرایطو کچه (۹,۷-) ده، په داسی حال کې چې په تیره سروې کې دغه شمېره (۱-) وه. د یادونې وړ ده، چې ستر شرکتونه د راتلونکي شپږو میاشتو د کار و بار شرایطو لپاره ډېر هیلمنتیا لري (۲,۳)، نسبت منځنیو شرکتونو ته چې (۳,۱-). ښودل شوی.




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچنی او منځنی | -5 | 29 | 11.9 | -5.4 | -33.1 | -27.4 | -14.8 | -13.9 | -12.1 | -16 |
| لوی شرکتونه | 6 | 35 | 27.7 | 13 | -14.8 | -7.5 | 1 | -1.5 | -1 | -9.7 |

ګراف ۴: د شرکتونو د کچې په تفکیک د کاروبار عمومي شرایط ۱۳۹۱-۱۳۹۵


Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 20 3/5/2017 4:12:27 PM

## ب. فرمایشونه:

د کار و بار د حالت د ارزونې لپاره د یو بل فکتور د فرمایشونو حالت دی. د یادونې وړ ده، چې د مثبت او منفی ځوابونو د تفریق حاصل د دې بخش شمېر دي.

د کار و بار په فرمایشونو کې د تیرې سروې په پرتله، پدې سروې کې کم پرمختګونه لیدل کیږي. خو د دې پرمختګونو سره سره، د فرمایشونو په شاخصونو کې د کار و بار مثبت نښه نه تر سترګو کیږي. په تېرې کې، د فرمایشونو شاخص (۳۳,۳۹-) و خو دا ځلې (۲۹,۵۱-) ته رسیدلې دی.

**ACCI BCI**




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اوسنی حالات | -52 | -41 | -47.6 | -55.2 | -57.7 | -63.6 | -61.8 | -60.4 | -33.4 | -29.5 |

ګراف ۵: د فرمایشونو وضعیت تولتال ۱۳۹۱ – ۱۳۹۵ (په ربع وار دول)

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 21 3/5/2017 4:12:28 PM

## ج. د ګمارنې هیلې:


د دې سروې مطابق، شرکتونه د راتلونکي ګمارنې په هکله هیله من دي، خو له تېرو درېو میاشتو راهیسې خپل کارکوونکي کم کړي دي.

د ګمارنې لپاره د متشبثینو د عمومي هیلمنتیا شاخص د سکتور له تفکیک پرته (۱،۱۳-) دی، چې د تیر سروې څخه کمه شوی دی (۴،۲۸).

د یادونې وړ ده، چې د ګمارنې اوسنی وضعیت د تیرې سروې د ځواب ویونکو د هیلو په پرتله ډېر توپیر لری. د ورې په میاشت کې شرکتونو ویلی و، چې هیله لري په درېیو راتلونکو میاشتو کې د ګمارنې کچه په منځنی کچه شاوخوا (۴،۶۴) زیاتوالی ومومی، خو له دې سروې سره سم په درېیو تېرو میاشتو کې یې منفي لوري خپل کړي دي. د هغو ځواب ویونکو شمېر، چې ویلي یې دي کارکوونکي یې (۱۳،۳۴) سلنه ډېر شوی دي د هغو کسانو څخه زیات دي، چې ویلي یې دي، په تیرو درېیو میاشتو کې یې ډېر کارکوونکو یې ګمارلي دي.

ودانیزو شرکتونو (۱۸،۵۷-)، د خدمتونو سکتور (۹،۶۶-) او سوداګریز سکتور (۸،۲۷-) خپل کارکوونکي، تولیدی سکتور د (۴،۸۵-) په پرتله زیات کارکوونکي له لاسه ورکړي دي. کرنې یواځنی سکتور دی چې د ګمارنې مثبت نسبي (۱،۷۲۵) راپور شوی دی.

## ACCI BCI




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تولیدي | 43 | 56 | 40.6 | 27.9 | -19.4 | -33 | -10.6 | -16.4 | 0.9 | -4.8 |
| سوداګریز | 39 | 45 | 42.8 | 23.5 | -21 | -35.1 | -14.8 | -16.2 | -5.5 | -9.7 |
| ودانیز | 20 | 37 | 34.5 | 23.5 | -17.2 | -24.5 | -20.4 | -12.1 | -15.2 | -8.3 |
| خدماتي | 18 | 30 | 34.3 | -5.7 | -18.6 | -41 | -23.3 | -20.5 | -22.4 | -18.6 |
| کرنیز | | | | | | | | | | 1.7 |

ګراف ۷: د سکتورونو په تفکیک د ګمارنې هیلې ۱۳۹۱-۱۳۹۵


Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 22 3/5/2017 4:12:28 PM

## د. امنيتي وضعيت:

په عمومي ډول، شرکتونه په دې باوري دي، چې امنيتي ګواښونه د تيرو مياشتو د سروې په پرتله ډېر شوی دې، او هيڅ ولايت هم د مثبت امنيتي شاخص لرونکي ندی.

ننګرهار او کابل تر ټولو خراب راپور ورکړل شوي دی. کندهار د (۱۴,۷۸-) په لرلو سره د امنيتي وضعې له حيثه د ټولې سيمې په کچه آرام راپور ورکړل شوی دی، خو څنګه چې په ګراف کې ښودل شوی دی، دا سيمه هم د تير سروې په پرتله خراب راپور ورکړل شوی دی. د بلخ د کار و بار په شرايطو کې کوم مهم توپير ندی راپور ورکړل شوی او د هرات وضعيت ښه ښودل شوی دی.

ACCI BCI





| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 1 | -17 | -40.5 | -54.5 | -70 | -61.5 | -59 | -33.5 | -17.5 | -48.2 |
| بلخ | -7 | 17 | 33.3 | -29.2 | -62.2 | -40 | -65.6 | -64.5 | -46.7 | -46.1 |
| کندهار | 13 | 22 | 54.5 | -19.8 | 18.9 | -18.9 | -35.6 | 5.6 | -2.2 | -14.8 |
| ننګرهار | -22 | -16 | 38.9 | -36.7 | -46.8 | -77.8 | -60 | -48.9 | -7.8 | -52.2 |
| هرات | 0 | 17 | -5.6 | -37.8 | -62.2 | -40 | -8.9 | -30 | -17.8 | -14.8 |

ګراف ۰۸ : د هرې سيمې په تفکيک د امنيتي حالت ۱۳۹۴-۱۳۹۱ (پوښتنه : د تيرو دريو مياشتو)

## ه. دکار و بار پر وړاندې پراته خنډونه:

د تېر سروې په څير، د سترو تجارتي خنډونو ارزونې ښيې، چې د کار و بار د پراختيا په وړاندې تر ټولو عمده خنډ امنيت دی؛ تر امنيت وروسته پياوړي بيخ بناوې، خدماتو او توليداتو لپاره بازار او تقاضا، اداري اصلاحات او مالي سرچينو ته لاسرسی شتون لری، چې د کار و بار د پرمختګ لپاره اړين شمېرل کيږي.




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-2016 | III-2016 | IV-2016 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| امنيت | 53 | 44 | 45.2 | 41.4 | 53.9 | 55.7 | 47.6 | 64.1 | 54.3 | 63.1 |
| د اداری اصلاحات | 6 | 7 | 13.8 | 17.5 | 13.6 | 12.8 | 14.7 | 9.8 | 10.5 | 8.5 |
| بنستونه | 12 | 17 | 17.2 | 13.9 | 6.3 | 7.3 | 9.8 | 7.9 | 10.2 | 12.8 |
| مالی سرچينو ته لاسرسی | 6 | 5 | 4.8 | 5.5 | 4.3 | 2.9 | 4.8 | 5.7 | 4.7 | 5.5 |
| مارکيت او تقاضا | 23 | 27 | 19.1 | 21.6 | 22 | 21.3 | 23.1 | 12.5 | 20.4 | 10.1 |

ګراف ۰۹: د کاروبار پر وړاندې پراته عمده خنډونه ۱۳۹۴-۱۳۹۱

## ضميمه:
## دکاروبار تعريف:

د کار وبار شرايط د توليدي، ودانيزو، خدماتي او سوداګريزو شرکتونو د دوريې سروې پر بنسټ مشخص کيږی. د شرکتونو له مسوولينو څخه د اوسني وضعيت او د راتلوونکو شپږو مياشتو د هيلو او تقاضاو په اړه پوښتل کيږي. هغوی د خپل کارو بار وضعيت د درېيو انتخابونو (له عادي څخه ښه، بدتر به شي) ټاکي.

له عادي څخه ښه انتخاب( مثبت) او له عادي بدتر (منفی) انتخاب فرض کوو، د اوسنی وضعيت شاخص د مثبتو او منفی ځوابونو د تفريق له سلنی يا فيصدی څخه ترلاسه کيږي. دغه راز د هيلو شاخص د (ښه به ) او (بدتر به شی) د انتخابونو د سلنې ترمنځ له توپير څخه ترلاسه کيږي.

د کار و بار شرايط د کاروبار د وضعيت او هيلو د منځنی حسابي څخه عبارت دي.

په لومړی سروې سروې کي (عادي) او (بدلون به ونه کړی) انتخابونو ته صفر په پام کي نيول کيده. د کار وبار شرايط له صفر څخه تر مثبت ۱۰۰ پورې (زيات) او منفي ۱۰۰ کم کولاي شي، بدلون ومومي. وروسته چې کله زماني سروې ګانې (time series) رامنځته شوی دی کار وبار د صفر نکته د کال د سروژ پايلو ته په پاملرنې سره تاکلي معيار ګرځي او راتلونکي کلونه د هغه پر بنسټ سنجول کيدای شي.

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 24 3/5/2017 4:12:28 PM



**خپرونکی:** د افغانستان د سوداګری او صنایعو خونه

**تمویل کوونکی:** د جي آی زید دفتر

**راپور لیکوونکي:** یونس نګاه، نعمت الله علیشیریان او
ډاکټر مسعود پروانفر

**د معلوماتو راغونډوونکي:** سنګر، فضل، طالب حسین بهروز، احمد
ولید او رحیمه احمدی

**ژباړه:** محمد اکرم سدید

کابل – مرغومی ۱۳۹۵

د دې سند د چاپ او خپریدو حق د افغانستان د سوداګری او صنایعو
خونې سره خوندي دی.

### ولی سروی او څېړنه کوو؟

- د کاروبار د خنډونو په اړه د عامه پوهاوی د سطحی لوړول
- د کاروبار د وضعیت څخه زموږ د پوهی لوړول
- د دولت او خصوصی سکټور تر منځ د خبرو اترو لپاره د موثقو اسنادو او ارقامو پیدا کول
- دکاروبار د چاپیریال د ښه کیدا لپاره وړاندویزونه

### په دې سروې کې نغښتل شوي اجزا:

- معیاری لاری چاری او پوښتنلیکونه
- د ټلیفون له لاری مرکه
- کارکوونکو او زده کړیالانو ته زده کړی ورکوی شوی دی
- په ملی کچه پوښښ
- د ټولو اقتصادی سکټورونو پوښښونکی
- د هغه شرکتونو په شمول، چی د افغانستان د سواگری او صنایعو اتاق غړی او یا هم د اتاق غړیتوب ونه لری

### دکاروبار د وضعیت سروی:

الف: د لنډ مهاله اقتصادی نوساناتو ارزونی، تحلیل او وړاندویینی په موخه ترسره کیږی
ب: په هرو دری میاشتو کی به یو ځل د یوه وړوکی پوښتنلیک له لاری ترسره کیږی
ج: دا ډول سروی تر ډیره په متوسطو او کوچنیو شرکتو باندی تمرکز کوی (ددی لپاره چی دا شرکتونو پر اقتصادی نوساناتو ډیره اغیزه لری)

### دکاروبار د ستونزو سروی:

الف: د هغه اوږدمهاله ستونزو د پیژندلو په موخه تر سره کیږی، چی د کاروبار د پرمختګ مخه نیسی.
ب: هر کال یو ځل د یوه جامع پوښتنلیک له لاری تر سره کیږی
ج: دکاروبار د ستونزو سروی تر ډیره په کوچنیو شرکتونو تمرکز کوی، ځکه چی دا شرکتونه تر ډیره د ستونزو سرخ مخ کیږی. له بله پلوه که څه هم دددی د کارکوونکو شمیره کمه وی، مګر اقتصاد کی مهم رول لری.

Pashto Report Design Version 8 Final High Quality for Print.pdf 26 3/5/2017 4:12:29 PM



ACCI
Afghanistan Chamber Of Commerce & Industries
اتاق تجارت و صنایع افغانستان
د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق

حضوري چمن
کابل ننداري ته څېرمه
کابل - افغانستان
+۹۳ (۰) ۷۵ ۲۰۲ ۵۸ ۵۴
+۹۳ (۰) ۷۹ ۴۴۴ ۹۰ ۵۵
research1@acci.org.af
www.acci.org.af
http://www.acci.org.af/surveys-and-studies.html
پست بکس: 233

با همکاری مالی

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT